دکـــتاب نـــــوم ـــــ غم او هجران
((ناول

لیکوال ـــــ رفیع الله علی حیدر وردګ

دچاپ کال ـــــ 1401_12_13

دلیکوال ـــــ نمبر
(0797335830)
(0730432762)

دلیکوال خبری
ګرانو او محترمو ملګرو خپل ژوند
ښایسته تیر کړی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنا دا چی هیچا ته بد مه رسوی

چاچی درسره بد کول ته ورسره ښه کوه

دخپل مور او پلار سره ډیر ښه کوی

په خپله کورنۍ کی اخلاقی اوسی

ستاسو کشرورور رفیع الله علی حیدر $
$وردګ

ډالۍ
ګرانی او خوږی مینی ته
❤️$❤️

دلیکوال پیژندګلوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په 1391کی مکتب شروع کړی تر
خلورم صنف پوری اول نمبر وو خو بیا
چی په مشکلاتو کی ډوب شوو نو اول
نمبری یی دلاسه ورکړه
چی اوس د(کفتان تاج محمد عالی لیسه
) په نهم ټولګی کی زده کړی کوی یوو
کال دستونزی له امله امتحانو څخه
محروم شوی
(پته (ادرس
ولایت میدان وردګ ـــ ولسوالی
سیداباد ـــ کلی ډنډوکی ـــ نوم رفیع
الله ـــ تخلص علی حیدر ـــــ
دپلار ــ نوم ګل ولی ــ دپلار تخلص
امینی ــ دخاص ملګری نوم ـــ حضرت
ـ بلال❤️

ستاسو کشر ورور
رفیع الله علی حیدر

(c) ketabton.com: The Digital Library

❤$❤

پیل (شروع)

نوی کال شروع وو .

مکتب هم شروع شول .

زه هم پلار بوتللم مکتب ته .

په مکتب کی شامل کړم .

مکتب سره می ډیره مینه وه.

هره ورځ تللم مکتب ته .

زما درس په ښه توګه زده کیدلو.

ډیره مزه یی کوله .

زه هم هره ورځ تللم مکتب ته .

دریم صنف کی وم .

چی کور مو کابل ته تللو .

زه هم لاړم مکتب ته .

مدیر صاحب ته می وویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیر صاحب ویل سمده پخیر لاړ شی.

سه پارچه می واخیسته کابل ته .

کابل کی مکتب ته لاړم .

نابلده وم .

ډیر خفه وم

ځکه چی ما هیڅ څوک نه پیژندل .

دکلی په مکتب کی ډیر خوشاله وم

ځکه چی ملګری کلیوال هر څه می لرل.

خودلته هیڅوک نه پیژنم .

څه وکړم ډیر زیات خفه وم.

خو وخت تیریده.

لږلږ بلد شوم .

مکتب ته هره ورځ تللم .

خوپه کابل کی انجونی اوهلکان ګډ

مکتب ویلو.

خوزه نابلده وم په صنف به غلی ناست

وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه زه دانجونو څخه شرمیدم.

خو وخت تیریده .

زه هم بلد کیدم.

څلور میاشتني امتحانونه راورسیدل .

ماهم پوره امادګی نیولی وه.

امتحان شروع شوو.

ماهم ښه سوالونه حل کړل.

ډیر خوشاله شوم .

سبا بیا لاړم امادګی می نیولی وه.

مکتب ته داخل شوم.

هلکان او انجونی هرځای ټولی ټولی

ناست وو.

خو هلکان او انجونی ګډ سره ولاړ وو.

خو ما زړه ونشوو کړلی .

اوپه دروازه کی کیناستم .

مکتب ته یوه انجلی را روانه وه.

ژړل یی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوچی زه یی ولیدم .

ژړا یی کراره شوه .

چی نیږدی راغله .

هغه زما صنفی هم وه.

ماورته وویل کوم مشکل .

ویل دخه شی مشکل .

ما ورته وویل تا ژړل ولی.

راته یی وویل ګرانه زه ډیره خفه یم .

ما ویل ولی .

راته یی وویل .

ته زما صنفی یی زما دامشکل دی .

کور کی یوه مور لرم .

هغه ناروغه وه.

زه ټوله شپه دهغی سره ناسته وم.

کتاب می نه دی کتلی .

زه به ناکامه شم .

زما ملګری به رانه کامیاب شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماورته وویل ولی کورکی نور څوک
نلری.
راته یی وویل نه څوک نلرم .
زه او مور می تنها کور کی اوسو.
زه ډیر خفه شوم .
ما ورته وویل نن زه درسره کمک کوم.
هغه راته وویل څنګه کمک .
ما ویل په امتحان کی زه اول پارچه
ورکوم.
ته یوی خواته کینه او پورته کیږه مه.
زه په کاغذ درته دسوالونو جوابو نقل
کوم .
هغه وویل سمده مننه .
امتحان شروع شوو .
ما خپله پارچه زر زر حل کړه .
او لاړم استاذ ته می پارچه ورکړه .
لاړم کاغذ می را واخیست .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسوالونو ځوابونه می ولیکل .
او داستاذ څخه می پټ هغه کاغذ ورکړو.
زه لاړم په دروازه کی ناست وم.
هغی جنی پارچه استاذ ته ورکړه.
او راغله راته یی دغه شعر وویلو.

اصلـــیت پـــکـــی دهـــر ســـړی
مـــعلـــوم شی

زه دبـــدو ورځـــــو ځـــکه مـــینواله
یم

ما ورته وویل ته خو شاعره هم یی.
ویل نه دا دبل چا شعر وو.
ماویل سمده .
نور روان شوم دکور په خوا .
ځکه ما دانجلی سره خبری نشوو کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه شرمیدم .

سبا بیا لاړم مکتب ته .

تنها ناست وم .

دوه هلکان راغلل ویل وروره ته کوم

مشکل لری.

ما ویل نه .

راته یی وویل ولی داسی خفه ناست

یی.

راځه زموږ سره .

زه هم ورسره روان شوم .

دکرکټ میدان ته یی بوتللم .

دکرکټ سره زما ډیره مینه وه.

هلک غږ وکړو.

ویل یی داهلک زموږدی.

هغه نورو وویل ستاسو دی وی.

داهو هیڅ نشی کولی .

زه یی داسی تنها تنها لیدم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دوی داسی فکر کولو چی دا څه نشی
کولی .
خو زما څخه په کلی کی .
هیڅا لوبه نشوو ګټلی.
خو کرکټ شروع شوو.
ماچی سر په سر دوی شپږیزی ووهلی.
نو هغه هلکان حیران شول .
لوبه مو وګټه .
هغه دوو هلکانو زه په غیږ کی ونیولم .
رما څخه یی دنامه پوښتنه وکړه.
ماویل نوم می نصیب الله دی .
ویل ماشاءالله ډیر ښکلی نوم .
ماهم دهغه څخه دنوم پوښتنه وکړه.
یوو احمد او بل میوند نومیده.
دامتحان وخت شوو .
زه هم لاړم دامتحان ځای ته.
چی هغه جنی اخوا دیخوا ګوری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی زه یی ولیدم.

راغله راته یی وویل کمک راسره کوی .

ما ویل ځنګه کمک .

ویل یی نقل راکوی .

ماویل نه .

ویل یی ولی .

ماورته وویل چی ما پرون په دی خاطر

نقل درکړو .

چی ته لایقه یی خو مشکل کی یی.

راته یی ویل آفرین ماشاءالله.

ما هم ته امتحان کولی .

خو ته کامیاب شوی .

ماخو ویل چی تا زما سره دمطلب لپاره

کمک کوی.

خو ته ډیر ښه هلک یی .

زه ډیر شرمیدم .

ما هیڅ ورته ونه ویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امتحان بیا استاذ واخیست.

جمعه مبارکه سبا وه .

زه کورته لاړم لږ لږ درس می وکتلو .

خو زړه می تنګ شوو کلی می ډیر یادیدو.

په همدی فکرو کی وم .

چی دروازه زنګ راغی .

زه چی ورغللم .

هغه میوند او احمد وو .

زه ډیر خوشاله شوم.

ورته ومی ویل راځی کور ته .

ویل نه راځه چکر ته لاړ شو.

ماویل سمده زه می دمور څخه اجازه واخلم .

مور می راته وویل سمده لاړ شه خو فام کوه .

ماویل سمده موری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمور لاس او پښې مې ښکل کړې.

لاړم میوند او احمد سره روان شوم.

خو ښې ډېرې چکرې مو ووهلې .

چکر ډېر خوند وکړو .

بیرته راغللو غرمه وه .

احمد ویل ځو ډوډۍ زموږ کره خورو.

ما او میوند ورسره لاړو.

ډوډۍ یې راوړله.

ډېره خوندوره ډوډۍ وه .

زه هم راغللم کور ته .

مورمې راته ویل زویا ډوډۍ دې خوړلې .

ماویل هوو مورجانې .

ویل چیرې دې وخوړه .

ماویل مورې دملګرو سره

سمده زویا .

لاړم کتاب مې راواخیستو .

لږ لږ مې وکتلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا بیا لاړم مکتب ته .
دملګرو سره کیناستم .
زما ډیرښه ملګری پیدا شول.
امتحان بیا شروع شوو .
مابیاښه سوالونه حل کړل .
زه اوس ډیر خوشاله وم.
ځکه زما ملګرو خفه کیدلو ته نه پرښوم.
هغه جنی زما صنفی وه .
خو زما سره یی خبری کولی .
مابه لنډی لنډی خبری کولی .
ځکه زه شرمیدم .
جنی راته دا شعر وویلو

مــه بـــدلوه رنــګ بـــده خـــبره ده

سختی ورځـــی تــل نــه وی قـــربان
دی شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماورته هیڅ ونه ویل.

هغه لاړه .

میوند او احمد راغلل .

راته یې وویل .

څه یې درته وویل یاره .

ولې داسې چوپ ورته ولاړ وې.

ما ورته وویل .

یارانو زه دکلي دمکتب څخه راغلی یم .

هلته انجوني په مکتب کې نه وې.

خو دلته خو داسې حال دی.

مامې پلار ته وویل چې زه نه ځم .

خو پلار مې نه منله.

نو احمد راته وویل .

یاره ته داسې ډیر بل رقم یې.

داجنۍ دومره مغروره ده .

چې دهیچاسره خبرې نکوي .

خوستا سره ولې کوی نه پوهیږم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په کلی کی داسی وو چی دجنی
سره خبری کول غټ جرم وو.
بله ورځ لاړم مکتب ته .
امتحان شروع وو.
خو هغه جنی نه وه راغلی .
امتحان خلاص شوو.
زه سبا بیا لاړم مکتب ته .
هغه جنی راغلی وه .
ماته یی اواز وکړو.
ویل دلته راشه چی ورغللم .
ډیره خفه وه .
راته یی وویل چی استاذ رانه تیر شوی
امتحان نه اخلی .
وایی ته مشکل نلری .
راغلی به وی .
دانور هلکان او انجونی زما په مشکل
خبر دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو استاذ ته نه وایی ځکه زه غریبه یم .

ما ویل سمده راځه .

استاذ ته ورغللو ما استاذ ته وویل .

استاذه امتحان ورنه واخله .

پرون یی مشکل وو .

استاذ راته وویل سمده که مشکل یی نه

وو دجنی پر ځای به ته ناکام شی .

ماویل سمده استاذه

استاذ جنی وروغوښته پارچه یی ورکړه

.

امتحان یی ورنه واخیست.

هغه راغله زما څخه یی مننه وکړه .

بیا لاړم کورته کور لړنګ وو.

اور یی اخیستی وو.

زه بی هوشه شوم .

لږ وخت وروسته چی په هوش راغلم په

شفاخانه کی وم.

زه ډیر وار خطا شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زر پاڅیدم داکتر را وګرځوم.

ماویل داکتر صاحب زما مور او پلار

چیری دی.

هغه په غیږ کی ونیولم رته یی وویل

هغه له دنیا لاړل .

زه بیا بی هوشه شوم .

لږ وخت وروسته بیا په هوش راغللم .

ډیر ډیر می وژړل خو هیڅ می نشوو

کولی.

پوښتنه می وکړه .

چی دا ولی داسی وشول .

راته یی وویل دلته ستاسو دکور لاندی

کورکی .

دګاز ډبه وچاوده .

زه ډیر ډیر خفه شوم هر وخت می ژول

ژوند خراب شوو.

بیرته لاړم کلی ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکتب هر څه می پریښودل .

کلی کی خلکو راسره کمک وکړو .

کور او دکور ټول سامان یی راته راوړو.

زه هر وخت ژړیدم .

یوه میاشت کی زه دومره خراب شوم .

چی چا پیژندلم هم نه .

یوه ورځ دروازه کی اواز وشوو.

مامی خپلی اوښکی پاکی کړی .

ورغللم .

میوند او احمد وو چی زه یی ولیدم .

راته یی وویل وروره نصیب الله مو په

کار دی.

ماویل زه یم .

نو هغه دواړه په ژړا شول .

ویل داخه دربانده شوی .

کورته می بوتلل چای می ورته

راواخیست .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته می ملګرو ډیری خبری وکړی
ډاډګیرنه یی راکړه.
زما دزړه غم لږ کم شوو رته یی وویل ته
به زموږ سره ځی بیرته کابل ته.
ماویل نکیږی بیایی راته وویل .
ولی نکیږی ضرور به ځی .
خو اخیر یی بوتللم .
کور یی راته نیولی وو .
په کور کی هرڅه وو.
راته یی وویل یاره داستاکور دی .
زه می دملګرو زیات خوشاله شوم.
خوکورکی مور او پلار نه وو.
ډیر خفه شوم .
میوند او احمد لاړل .
ماتوله شپه ژول سهاربیا میوند او احمد
راغلل.
ماته یی وکتل ویل ولی له ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم کوی.

راځه زه هم روان شوم ورسره مکتب ته

.

مکتب ته چی ورسیدو هغه جنی ډیره

خفه ناسته وه .

چی زه یی ولیدم نو راغله سترګی مشی

یی وکړی .

تر لاس یی ونیولم هلته چوکۍوه هلته

کیناستو .

ډیری خبری داسی وکړی چی زما غم لږ

کم شوو.

راته یی ویل ته ولی لاړی زه دی چاته

پریښوم .

ما خو دژوند ملګری ته ټاکلی یی .

ډیری خبری مو وکړی خو دجنی خبرو

می غم ډیر کم کړو.

درس مو وویلا زما سره می ملګرو ډیر

کمک کولو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هم لاړم کورته بیامی کتاب

راواخیست .

لږ لږ می مطالعه کړو.

چی د دروازی ټخه اواز راغی چی

ورغللم میوند او احمد وو.

ماته یی ویل تحفه می درته راوړی .

ماویل څه کوی ولی ځان په زحمت

کوی.

ویل یی ته زموږ ورور یی ګرانه .

چی ګورم موبایل یی راته راوړی وو.

سیمکارت هرڅه پکی فعال وو.

ماتری مننه وکړه زه ډیر خوشاله شوم .

چی داسی څوک لرم .

ماښام ډوډی می وخوړه .

موبایل می راواخیست .

انټرنیت می چلاند کړو.

چی دوه مسیجونه راغلی وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی دفروفایل عکس ته می وکتل .

یو احمد او بل میوند وو .

دمسج جواب می ورکړو .

خبری شروع شوی ګروف یی جوړ کړو .

یوزه او بل احمد او میوند پکی وو.

دری واړه پکی زیاتی خبری وکړی ټوکی

وکړی.

ښه ساعت مو تیر شوو .

سهار پاڅیدم لمونځ می وکړو.

موبایل ته می زنګ راغی .

میوند وو راته یی وویل ته کور کی پاتی

شه .

زه په موټر کی درځم جوړه به ځو

مکتب ته.

ماویل سمده لږ وخت وروسته موټر

راغی .

دری واړه مکتب ته لاړو دموټر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکته شوو.

چی هغه جنی هلته ناسته وه سلام می

ورته واچوو.

ستړی مشی می ورسره وکړی .

هغه هم ډیره مهربانه جنی وه.

زما مخکی نه وه ورسره جوړه خو چی

مور اوپلار می دلاسه ورکړل .

نوزما دجنی سره مینه زیاتیده .

هغی جنی راته داشعر وویلو

خـــنــګ تــه راشــه ډاډګیرنی تـــه

اړتـــیاده

دتـــمامــی دنـــیا غـــم می پــه ســـر

پـــروت دی

دی جنی شعر پر ما ډیر تاثیر وکړو.

ورته ومی ویل ولی داسی غمجن غمجن

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعرونه وایی.

راته یی وویل څه وکړم ته داسی نازونه

کوی .

ما ویل دچیشی ناز کوم ناز .

راته یی وویل ته ولی زما سره خبری

نکوی .

ماویل ولی زما خبری څه کوی .

دا جنی جورأت ډیر زیات وو .

راته یی ویل زه په تامئنه یم .

زه فکر کی شوم چی اوس څنګه وکړم .

خوبس دا جنی می په دی خاطر خوښه

وه .

چی دنورو هلکانو سره یی خبری نکولی

.

ماورته وویل سمده

زه هم په تامین یم .

ویل یی راشه خو راسره کینه .

چی زړه می لږ قرار شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغللم مخامخ ورته کیناستم .

ماسترګی ښکته کړی .

خوجنی ماته کتل وخت تیریده.

هغه دوه ملګری می راروان وو.

زه یی ولیدم بیرته په شا وګرځیدل .

ما جنی ته وویل ګرانی زه ځم .

موبایل لری جنی ویل نه ګرانه .

ماغوښتل چی موبایل ورکړم .

خوزما سره نه وو.

ماویل سمده دبیا لیدو په هیله .

لاړم ملګری ته چی ورغللم .

ملګرو راته وخندل .

ماویل ولی خاندی ویل یاره تا خو

معشوقه پیداکړه .

ډیر چلاقه یی یاره .

ماورته هیڅ ونه ویل .

سبا می موبایل خاموش کړو لاړم لږ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

به پیداکړم چی یوو موبایل واخلم.
لاړم ښار ته پوښتنه می وکړه چی کار
پیداکړم .
یو چا ادرس راکړو .
ادرس ته ورغللم کار پیدا شوو.
دلسو شپو کار می ونیوو.
موبایل می خاموش کړی وو.
خدای خبر چی زما ملګری به څنګه وی.
هغه جنی به سنګه وی .
خولس شپی کار می وکړو .
4000افغانی شوی لاړم دوکان ته په
3000افغانی می موبایل واخیست .
1000افغانی پاتی شوی .
سبا لاړم مکتب ته .
ملګری او هغه جنی ډیر خفه ناست وو .
زه پټ پټ ورغللم .
یودم می دشا دخوا په سترګو لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیوو.

بیرته می خوشی کړل.

ډیر راته غوسه وو راته یی ویل چیری

وی بی عقله.

موبایل هم خاموش کړی .

معشوقه دی درپسی لیونۍ شوه.

ماورته وخندل چی زه او دومره بخت .

راته یی وویل ورشه ملاقات وکړه سبا

جمعه مبارکه ده .

چکر ته به ځو

ماویل سمده .

زه لاړم جنی ته ورغللم جنی چی ولیدم

داشعر یی راته وویلو

زمـا یــوتــه اوبــل مــی خدای وو

خدای خو می شته خو تا یوازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریخودما

زه دی په نیمه لارکی پریخوم

ته رانه لاړی اوس می نکړی تپوسونه

ماورته وویل ماشاءالله ډیره ښایسته
شاعره یی .
ورغللم راته غوسه وه .
ویل یی چیری تللی وی بی عقله .
ماویل زه بی عقل یم . ویل هوو ته بی
عقل یی.
ماویل ولی بی عقل یم
ویل یی تا ولی موبایل خاموش کړی وو.
ماویل زه تللی وم چی کار وکړم موبایل
درته واخلم .
راته یی وویل نه غواړم ستا دغه رقم
موبایل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی ته پسی ورک وی .

ما ویل سمده .

مه خفه کیږه ګرانی .

بیایی راته وویل ای چوپ درواغ مه وایه .

زه پر تا نه یم ګرانه .

ماویل ولی زه دروغ وایم .

ویل یی ته دروغ وایی ځکه لس شپی ورک وی.

زه دی لیونۍ کړم .

ماورته موبایل ورکړو .

ډیر په غوسه کی رانه کش کړو .

ملګری جنی ټول راته غوسه وو.

موبایل می ورکړو خو ډیره غوسه وه 1000افغانی می ورکړی .

ورته ومی ویل دادی دجیب خرڅ ګرانی.

خوشاله شوه خوراته یی وویل بل وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

که داسی ورک وی بیابه ګورو چی زه دی
ځنګه کوم.
ماویل سمده امر مو پر ځای کیږی
افسری راته یی وخندل.
خندایی ډیر خوند راکړو .
بیا می ورته وکتل ورته ومی ویل چی
یوار بیا راته وخانده ګرانی .
بیا یی ښایسته ښایسته وخندل.
زړه می ډیر ښه احساس کولو .
دملګرو په خوا روان شوم.
چی ملګرو ته ورسیدم چادر یی په لاس
کی وو .
زه چی ورغللم زما لاس او پښی یی
راوتړل .
اوراته یی ویل چیری تللی وی.
مېرېیان یی راوړل .
زما خیټه یی لوڅه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل يی که حال وايی نو خلاص به شی

.

اوکه حال نه وايی .

مېړيان دی په خيټه اچوم.

زه دمېړيانو څخه زيات ويريدم .

نو بيرې زارى مى ورته وکړې .

خو نه يی منله .

چيرى تللى وى .

ماورته ټوله کيسه وکړه چی معشوقی

راڅخه موبايل وغوښت زه لاړم په

کارپسى او موبايل مى واخيست .

احمد ميوند ته وړيل خوشى کړه دا بى

عقل دواړه خفه ودريدل .

زه پاڅيدم

ولی يارانو داسى خفه شوى.

ويل چوپ شه .

زه بيرخفه شوم .

راته يی وويل ولی داسى کوى بی عقل

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی ماویل ولی یارانو .

راته یی وږیل تا ولی موږ ته نه ویل ته

زموږ ورور یی ولی داسی کوی.

ماویل اوس می وبخشی بیا داسی نکوم

.

چی داخبره می وکړه .

په غیږ کی ونیولم .

لاړم کورته .

میوند راته زنګ وکړو ویل راځه زموږ

کره احمد هم زموږ کره دی.

ماویل سمده درځم .

ورغللم ښه ګفه مو وکړه ښه ساعت مو

تیر شوو.

میوند او احمد پول داره وو خو ډیر

عاجز او خوش اخلاقه وو.

ماته یی شل زره افغانۍ راکړی .

ما ویل نی اخلم ضرورت نه ورته لرم .

خو نی منله روپی راکړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل داواخله دمعشوقی سره دی که چکر

ته تللی پکار به دی شی.

خو فام کوه چی بل وخت داسی کار

ونکړی .

چی روپی دی پکار کیدی موږ ته وایه .

ماویل سمده مننه یارانو.

دا رښتیا ده چی ښه ملګری تر ورور ښه

دی .

زما ملګری ډیر راباندی ګران وو.

سبا بیا لاړو مکتب ته .

چی لاړم جنی ډیره خوشاله وه چی

ورغللم سترې مشی می ورسره وکړې .

ورته ومی ویل چی زه نن څم ستا سره

کورته .

راته یی وویل ولی .

ماویل څم ګرانی ستا کور ګورم .

ویل سمده ګرانه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

درس خلاص شوو .

زه اوهغه جنی دواړه روان وو .

چی کورته ورسیدو.

ډیر خراب کور یی وو .

مور یی کالی ګنډل .

او دهغه په روپی کور ته سودا کوله.

زما زړه ډیر خفه شوو .

لاړم میوند ته ورغللم ورته ومی ویل

چی موټر راکړه پکار می دی.

کلۍ یی راکړی .

زه روان شوم غړ یی راباندی وکړو .

ما ویل څه وایی یاره .

ویل یوار ودره .

زه ولاړ وم .

چی میوند راغی 5000زره افغانۍیی

راکړی ویل موټر کی تیل نشته تیل ورته

واچوه ما ویل سمده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما سره روپی شته خو نی منله .

روپی می تری واخیستی .

لاړم بازار ته .

دجنی مور ته می ښایسته دخیاطی ماشین واخیست .

مورته یی کالی نور دکور سامان ټول شیان می واخیست .

لاړم ښایسته ګوتمۍ واخیسته روان شوم .

دهغی جنی کورته ورسیدم .

دروازه می ور ټک ټک کړه .

موریی راووتله هغه ډیره خوشاله شوه بیرته لاړم موټر می بوتلا دمیوند دغو که.

زه راغللم خپل کور ته .

سبا لاړم مکتب ته جنی راغلی وه ډیر خوشاله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماورته ګوتمۍ ورکړه .
ډیره زیاته خوشاله شوه
داشعر یی راته وویلو

پــــه یــاری کــی چــی وفــا درســره
وکــړی

هغه څـــوک وی خـــو جـانـان تریــنه
جــوړیګی

ماورته وویل ماشاءالله دیر ښایسته شعر
.
هغی وویل مننه
وخت تیریده .
زه او زما ملګری او هغه جنی ددولسم
صنف ته کامیاب شوو.
ما غوښتل چی دجنی سره واده وکړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زما هیڅوک نه وو .

چی رشته ور ولیګم .

بله ورځ می میوند ته وویل هغه راته

ویل سمده .

سبا زه اوزما مور ورځو.

ته فکر مکوه.

ماویل مننه یاره .

سبا میوند او مور یی ورغلی وو.

خو دهغی کاکا راغلی وو.

ورته ویلی وو چی زما می په ورور

قرض دی .

مورې په دی قرض کی دهغه لور خپل زوی

ته کوو .

میوند راغی ماورته وویل څه یی ویل

هغه ښوله کیسه

وکړه .

ماورته وویل چی دهغه قرض زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاصوم .

میوند راته یو متل وویلو

چی مرِ شی نو پرِ شی

دهغی کاکا ویل چی زما وروبندی شل

لکه افغانۍ دی .

دانو ته ښنګه خلاصوی.

زړه دی صبر کړه بله به پیداکړی

ماورته دغه شعر وویلو

زړه له جانانه صبرول ښنګه وی

دچا دسترګو هیرول ښنګه وی

بس نو سبا لاړم مکتب ته هغه جنی نه

وه راغلی .

زه ډیر خفه شوم .

سبا بیالاړم مکتب ته خو هغه بیا نه وه

راغلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنګ می ورته وکړو .
راته یی ویل چی زما کاکا نور مکتب ته
نه پریږدی .
زما نور هم فکر خراب شوو.
بله ورځ می زنګ ورته وکړو دهغی جنی
کاکا وو.
راته یی وویل څوک یی ماورته غږ
ونکړو .
پوه شوم چی موبایل یی هم ورنه
اخیستی.
زه ډیر ډیر خفه شوم.
لاړم کورته موبایل می خاموش کړو .
کالی او نور سامان می سم کړل روان
شوم کلی ته.
کلی ته ورسیدم .
لاړم زما دپلار پخوانی کور ته .
هغه لږ خراب شوی وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه کوټه می سمه کړه .
دهغی جنی شعرونه خبری می تولی یاد
ته راتلی.
دمور او پلار ټول غمونه تازه شول .
هر وخت پکت ژړا نور می هیڅ هم
نکول .
په ژړا ژړا می سترګو څخه وینی راوتلی
.
بله ورځ می ځان وژنه کوله .
ځان می تیار کړو .
چی په ځاه کی ځان وغورځوم .
چی ځاه ته ورغللم پښی می پکی ور
وځړوی .
چی دروازه کی اواز وشوو.
زه په زنګیدلی قدمو ورغللم .
میوند او احمد وو.
چی زه یی ولیدم میوند بی هوشه شوو.
ولی راغلی یاست زه نور ژوند نه غوارم

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

ځکه مور او پلار مینه هر څه می دلاسه

ورکړل.

احمد راته ویل مورِ خو دی دلاسه نه یو

ورکړی .

دی خبری می زړه کی احساسات

راپیداکړل .

زه یی موتر ته پورته کړم بویی تللم

داکتر ته .

داکتر راته ویل که لس شپی دی نور

دارقم فکرونه کول .

ستایاداش او عصاب له منځه ځی .

چی داخبره داکتر وکړه .

زما ملګری په ژړا شول .

ماورته ویل ولی ژاړی .

زه له غمونو خلاصیګم او تاسو ژاړی .

خو هغه هیځ نه ویل .

هغه دواړه لاړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تنها پاتی شوم .

لږ وخت وروسته راغلل زه یی هم

ورسره بوتللم

موتر نه وو په سرک ولاړ وو موتر ته

ماویل ولی خپل موتر مو څه کړو .

ویل هغه مو خرڅ کړو .

ما ویل ولی .

ویل ولی پریږده .

دهغی جنی دکاکا کور ته ورغللو زه یی

هم ورسره بوتللم

ملګری می دهغی سره خبری شروع کړی

ورته ویل یی موږ ستاسو قرض

خلاصوو .

او داجنی موږ خپل ملګری ته کوو.

دجنی کاکا وویل روپی مو راوړی دی

زما ملګری ورته وویل هوو

روپی یی شمار کړی 5لکه کمی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ومو ویل چی دا بیا درکوو خو نی
منله .
مامی خپل ملګرو ته وویل .
ما یوار کلی ته بوځی .
ملګرو راته ویل څه کوی ځان وژنه کوی
ماویل نه لږ ځمکه لرم هغه خرڅوم .
لارم کلی ته ځمکه می خرڅه کړه
کلیوالو هم راسره کمک وکړو.
خو 6لکه روپی شوی بیرته کابل ته
راغللم .
دهغی ظالیم قرض مو ورکړو .
زه ډیر خوشاله شوم
ملګرو څخه می زیاته مننه وکړه .
وخت تیریده واده مو وکړو.
په کور کی دجنی مور هم راسره
اوسیده.
دجنی مور ډیره خوشاله وه دعاوی یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی.

هره جمعه مبارکه به زه او زما معشوقه

دهغی مور ملگری .

په چکر تللو

بس نو ژوند ډیر خوندور شوو

پای

گرانو ملگرو دخپل مور او پلار سره

ښه کوی که هر څومره بد هم وی دخپل

مور او پلار احترام کوی

اوبل داستاذ احترام کوی که دی استاذ

احترام ونکړی

نو ته یو مقام ته نشی رسیدلی

که یوه مقام ته ورسی هم نو ته زیات

گناهگاره یی

په خپل کلی کی دهر مشر دهر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

احترام وکړی

ستاسو کشر ورور ـــ رفیع الله علی حیدر
اړیکی شماره
0797335830

ګرانو ملګرو ما په خپلو دعا ګانو کی یاد ساتی

سلامونه او احترامات

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**